مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۶/۲۵

# وطنه!

## تېره افسانه مې يې، امان مې يې، زمان مې يې

مینه کوم تا سره خپل ځان مي يي جانان مې يې
عشقه ته اواز مې د زړګي بڼکلي ارمان مې يې

ته يي چي زه ژوند کوم، عزت لرم هوسا به يم
ځان مې يې، قربان شمه خیالونه د جهان مې يې

څومره شوې تېپي، تېپي زخمو ته دې ملهم شمه
ژوند مې تر ابده يي تاریخ مې يي ايمان مې يې

څوک چي تا ته بد ګوري، سترګې بې ړندې شي ژر
واي دې هر څه، ته کور مدفن او قهرمان مې يې

پاڅوه يو ځل بيا میرویس خان او احمدخان دلته
تېره افسانه مې يې، امان مې يې، زمان مې يې

صبر وکړه دغه د وحشت دوره به تیره شي
فخر د تاریخ مې يي ټاټوبې د افغان مې يې

اغوس دنمارک
۲۰۲۰/۰۶/۲۲



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ